# د پښتو يوه لرغونې کلمه اروابښاد

په پښتو نوشتوکي چي کله د يو محترم مړي نوم ليکو نو له هغه سره د عربي کلمات مغفور يا مرحوم وايو او د دغه له پاره په اوسنۍ فارسي کي ځيني خلك د شاد روان امتزاجي ترکيب استعمالوي.

مګر د افغانستان په ژبوکي د دغه مقصد له پاره دوه زره کاله پخوا دغسي يو امتزاجي مرکب استعمال سوی دی چي ريښه او ترکيب اوکړه وړه يې بالکل پښتو ښکاري او زه يې داسي شرح کوم :

دوه زره کاله دمخه چي په شمالي افغانستان کي کومه ژبه ويله کېده او د کوشاني دربار رسمي او د ليکني ژبه وه د هغې يوه کتيبه ديرلس کاله پخوا د بغلان په سرخ کوتل کي پيدا سوه، چي ۲۵ ليکي ده او تقريباً (۱۶۰) کلمې لري، دا کتيبه چي اوس د کابل په لرغون تون (موزيم) کي پرته ده، د کوشانيانو په عصرکي د (۱۶۰) ميلادي کال په حدودوکي په تخاري ژبه پر يوه لويه ډبره ليکلې سوې ده. د دې کتيبې ډېر کلمات له پښتو سره مشترك دي، مګر اصلاً ژبه پخوانۍ دري ده د اوسنۍ فارسي مور ګڼله کيږي.

په دې ډبرليك کي د ډېرو سړو او د هغه عصر د شاهانو او مشرانو نومونه راغلي دي چي د يوه مرحوم او مړه سړي له نامه سره (اروابښاد) ليکلی دی، او دا امتزاجي ترکيب کټ مټ پښتو ته ورته دی.

مور چي به پخوا په پښتو يا د افغانستان په فارسي کي د (اروا) کلمه واروېدله نو مو ضرور داسي ګڼله چي دغه کلمه له عربي جمع (ارواح) څخه مفغنه سوې وه، مګر دې وروستني تحقيق او د بغلان کتيبې د ثابته کړه، چي (اروا) پخوانۍ افغاني کلمه ده چي په پښتو او پخوانۍ فارسي کي تاريخي ريښې لري. د دې کلمې شکل په کوشاني عصرکي په تخاري ژبه (ال و) و چي په يوناني ليك دود په (ای × ايل × او) ليکل سوی دی او هم له دغي ريښې څخه په افغاني ژبوکي (اروا) سته او د فارسي پهلوي (روان) او د اوستا (اروان) هم ورسره خپلوان دي او معنی يې د اوسنۍ فارسي (جان) او د عربي (روح) ده.

د دې خبري د اثبات له پاره مور لغوي دلايل هم لرو چي پخوا (الو) يا (ارو) عيناً د تخاري ژبي په ډول يا د اوسنۍ اروا په څېر موجود و، مثلاً په پخوانيو رواياتوکي د يوه غره نوم الوند يا اورند و چي لومړی جز يې دغه الو يا ارو دی. او دوهم پسوند يې د نسبت او وصف لاحقه ده او جمعاً د دې معنی جاندار او د اروا خاوند دی چي وروسته د مجاز په ډول د تېز او چالاك او توانا په معناوو هم راغلی دی او دا ښکاره ده چي دغه ټول د اروا صفات دي چي مجازاً د حقيقت پر ځای درېدلي او د الوند په معنا کي داخل سوي دي.

د تخاري ژبي الوښال لومړی جز هم دغه قديم الو يا ارو يا اوسنی اروا دی. اما دوهم جز يې ښال د پښتو ښاد او د فارسي شاد دی چي په پهلوي کي شات او په اوستاکي ښاته او په فرس قديم کي شپه تير و.

د تخاري لام په اکثروکلماتوکي اوس په دال بدل سوی دی او د بغلان په ډبرليك کي داسي ډېر کلمات راغلي دي چي لامونه يې په دالونو اوښتي دي.

دلته دا خبره هم د يادولو وړ ده چي په تخاري ژبه کي د (خ او ش) تر منځ يو بل آواز و، چي په اوستا کي مشدد اوکلك شين باله، اواز يې اوسنی پښتو (ښ) ته نژدې و او د کابل د غربي خوا پښتانه په لوګر او وردګو کي ترکندهاره دغه حرف اوس د (ش او خ) تر منځ اداکوي او داکټ مټ د تخاري ژبي او د بغلان دکتيبې دغه (ښ) دی او په دغه کتيبه کي (ش) بېل شکل لري او (خ) بېل شکل لري خوکله چي غواړي (ښ) وليکي، نو هغه د (ش + خ) شکلونه سره يو ځای کوي يعني د يوناني رسم الخط (ش + خ) ليکي او مقصد يې د (ښ) حرف او صوت دی او په دغه آوازکي تخاري ژبه د پښتو سره صوتي او ږغيز اشتراك لري. خو په دري يا اوسنۍ فارسي کي

دغه آواز نسته حال دا چي په اوستا او سنسګريت کي هم دغه آواز ته نژدې ږغ موجود و او په اوسنۍ روسي ژبه کي هم سته.

په اوسنۍ پښتو کي موږ دغه قديم تعبير داسي ساتلی دی چي په پښتو کي وايي : د پلار په اروا خوښي يې ختمه کړېده او دغه کټ مټ هغه قديم تعبير دی چي لږ څه تحول يې موندلی دی.

نو که اوس موږ د مرحوم او مغفور پر ځای په پارسي اروا شاد او په پښتو ارواښاد ترکيبونه واخلو او استعمال يې کړو يو خپل قديم او تاريخي تعبير به مو بيا را ژوندی کړی وي. مثلاً که ووايو : اروا ښاد احمدشاه بابا يا اروا ښاد ميرويس، نو دا استعمال به هم ادبي او هم به د تاريخ او فيلالوژي سره مطابق وي.

دغه پخوانی او اصيل افغاني ترکيب د مرحوم او مغفور او فقيد پر ځای ښه درېدلای سي او معنا يې هم عام فهمه او آسانه ده او زموږ په تاريخ کي هم دوه زره کاله عمر او سابقه لري. د اروا ښاد لرغوني ترکيب د بغلان په کتيبه کي موږ ته دا خبره ثابتوي چي د (اروا) کلمه زموږ خپله يوه تاريخي کلمه ده چي هم پښتو او هم پارسي ساتلې ده او د خلکو په ماوره کي تر اوسه هم ژوندی وه خو فقط په ادبي فارسي کي پر ځای (جان يا عربي روح) درېدلی دی.

اروا ښاد حاجي ولي محمد مخلص به ډېر ځله فکاهي بيتونه او بدلي ويلې، د ده د خولې ما يو بيت اروېدلی و چي ويونکی يې نه دی را ته معلوم خو په دغه بيت کي دغه قديم او دوه زره کلنی ترکيب فقط په مقلوب ډول سته او دا ښکاره کوي چي پښتنو نه و هېر کړی هغه فکاهي بيت دا دی :

ښاد اروا ملا رسول داد و لکه غوځ

خو تر ګـــــوره دی په ژبي کي و پخ

په قديمو کلمو کي موږ د (اروا) کلمې سره نژدې اشکال وينو، مثلاً مشهور مستشرق کريستن سن پخپل کتاب کيانيان (١٤٥ مخ) کي د پخوانو آريائيانو د يوه مشهور قانون ګزار نوم اخلي چي دی د سام کورنۍ څخه د کرشاسپ ورور و د دې مقنن نوم (اور واخشي) ضبط سوی دی چي لومړی جز يې دغه اروا او د تخاري ژبي (ال و) دی او دوهم جز يې د پښتو خوښي او د فارسي خوشي دی نو جمعاً اروا خوښي = اروا خوشي = اروا ښاد کېدای سي او دا د يوه ستانه سړي او قانون ګذار له پاره يو واقعي صفت دی.[١]

---

[١] کندهار مجله، ١٣٤٢ ل کال، ٦ مه ګڼه، ١١ _ ١٣ مخونه.